# مونږکلیوال

مونږکلیوال واړه یوبل پیژنو
واړه پردي اوواړه خپل پیژنو

مونږد هرچا په ښه اوبدپوهیږو
مونږهراصیل او هربدل پیژنو

مونږته دکلي پرهیزګارمعلوم دي
مونږپخپل چم کی هریوغل پیژنو

مونږد هرچاله کړو وړوسم خبریو
مونږد هرغله سړي هرمل پیژنو

مونږته د کلي هرهوښیارمعلوم دی
مونږد خپل کلي هرپاګل پیژنو

مونږته له غلو،اتلان مه جوړوئ
مونږد خپل کلي هراتل پیژنو

مونږته اغزي په لاس کی مه راکوئ

مونږ د اغزوپه منځکی ګل پیژنو

نورد هیچا په تزویرنه غولیږو
اوس موخپل حال اومُستقبل پیژنو

مونږاوس د غلوپه ضد( قیام) کړیدی
په وړاندی درومو،خپل منزل پیژنو
الحاج الهام الدین قیام
۱۴/۱۱/۲۰۱۴